# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



یونس نگاه


۰۷ اپریل ۲۰۲۳



**یونس نگاه**

# د طالبانو په واکمنۍ کې د اخلاقو زوال

د روایتونو مقابله په بېلابېلو برخو کې روانه ده؛ خو ځینې د اقتصادي لیدلورو مخامختیا لویه ګڼي او ځینې بیا د کلتور، سیاست او اخلاقو په ډګر کې تقابل بنسټیز بولي. طالبان او دې ډلې ته نږدې محافظه کاران په دین او اخلاقو کې د غوره والي ادعا کوي، د افغانستان شخړې اخلاقي تعبیروي او وايي چې د اقتصاد، سیاست او کلتور په ګډون په ټولو برخو کې د بریالیتوب کلي په دیني او اخلاقي پوخوالي کې نغښتي ده. هغوی خپله اوسنی پوځې بریا د ټولنې د وروسته پاتې والي، بې وزلۍ، د ترهګرۍ پر وړاندې په درېدو کې عمومي ناتوانۍ، له بهرنیانو سره معامله او د دوحې د هوکړې پایله نه ګڼي، بلکې ادعا کوي چې دوی په اخلاقي لوړتیا سره برلاسي شوي او په همدې ادعا سره د اقتصاد، سیاست او کلتور په برخه کې له مسؤلیت منلو اوږه تشوي. د هغوی له مشرانو مو په ځلونو اورېدلي چې د طالبانو د امارت دنده د دین او اخلاقي ارزښتونو دودول دي، نه اقتصادي پرمختګ، د کار زمینې برابرول او د ازادیو خوندېتوب.

یو ځل د طالبانو یوه مشر په ښکاره وویل چې که دوی ازادي او پرمختګ غوښتلای نو جهاد به یې نه کاوه. د طالبانو د رییس الوزرا ملا حسن مشهوره وینا چې ویلي وو، روزي ورکول د طالبانو مسوولیت نه دی او خلک باید روزي له خدایه وغواړي، د حکومتولۍ په تړاو د دغې ډلې د لید لوري لنډیز دی. د ځانمرګو او نورو جنګیالیو د روزنې او جهاد پالنې د دودېدو لپاره د طالبانو د مشرانو هڅې د اخلاقو د ساتنې او د دینداری د خپرولو په پلمه ترسره کیږي، خو په عمل کې د طالبانو نوم له اخلاقي زوال سره غوټه شوی ده. هرځای ته چې طالبان رسیږي، د ټولنې منل شوي اخلاقي معیارونه تر پښو لاندې کیږي، خصوصي حریم بې مانا کیږي، فردي حقونه او مدني ازادي له منځه ځي او سیاسي جبر او لوږه کورنیو او ټولنیزو اړیکو ته جدي زیان رسوي. له هغه وخته چې طالبان واک ته رسېدلي، له بده مرغه د بدن د غړو د پلورلو، د ماشومانو د پلورلو، اجباري ودونو، صحرایي اعدامونو، اجباري کډوالولو، تعصب او شکنجې خبرونه په بې ساري ډول زیاتي شوي دي. داسې ښکاري چې طالبان ټولنه د داسې مدرسې په څېر غواړي

چي له څه ویلو پرته اطاعت يکي حاکم وي او چوپتیا او زغم د دینداری او اخلاقو تر ټولو مهمې ځانګړنې دي. هغوی ان په خپلې ډله کې پوښتنې او نیوکې غیر اخلاقي ګڼي او په وار وار یې ویلي، چې اطاعت او چوپتیا د امارتې کېډو اصلي شرط دی. هغوی د افغانستان له ټولو ټولو خلکو د پټې خولې همدا چوپتیا او اطاعت غواړي. خو د طالب چارواکو او له هغوی نه د معاش اخیستونکو او خلکو تر منځ ډېر توپیرونه شته. هغوی د واک خاوندان طالبان دي، په خپل منصب کې ډېرې ازادۍ او امتیازات لري او که د دغو امتیازاتو د ساتلو لپاره چوپتیا او اطاعت وکړي، له تمې لېرې نه ده. دا چوپتیا او اطاعت یو سیاسي تاکتیک دی او د واک د دوام لپاره د ډله ییز انضباط په اډانه کې توجیه کیدای شي. خو د واکمنانو او خلکو تر منځ اړیکې د ټولو سختیو، ځپلو او تبعیض، لوږې او تحمیل شوې محرومیت پر وړاندې یوازې په اطاعت او چوپتیا پورې نه شي محدودېدای او اخلاقي نه شي بلل کیدای. په ټولنه کې یوه دردناکه اخلاقي بلوا او نه جبرانېدونکې زوال روان دی. دا زوال په ځانګړې توګه له خلکو سره د طالبانو په چلند کې په ښکاره توګه لیدل کیدای شي. د دې ډلې په امارت کې له هېوادوالو سره ناوړه چلند یوه عادي خبره ګرځېدلې ده. د طالبانو په دفترونو کې اوس مراجعینو ته پر ښکنځلو او له هغوی سره پر بد چلند څوک نه حیرانېږي. په وروستیو ورځو کې په رسنیو کې د دې ډلې د اخلاقي پولیسو او پوځیانو د ناوړه چلند ویډیوګانې خپرې شوې دي، چې ښيي دوی په هره پلمه او ډېرې اسانۍ سره زموږ د وطنوالو سپکاوی کوي.

د هغه څه اپوته چې طالبان یې تبلیغوي، هغوی نه یوازې دا چې پر خپلو سیاسي سیالانو اخلاقي غوره والی نه لري، بلکې په دې برخه کې یې ناکامۍ د پوهنې او اقتصاد تر برخو ډېرې جدي دي. اصولاً اخلاق د هوساینې، پوهاوي او ازادۍ په نشتوالي کې وده نه شي کولای او د زده کړو، کار او ازادۍ ضد ډلې حاکمیت اخلاقي سقوط دی.